# د چاپېریال په تړاو د اسلام لیدلوری

لیکنه: محب الله عمري

(کابل پوهنتون د چاپېریال ساتنې پوهنځي محصل)

۱۳۹۹ل.ل / ۲۰۲۰ز.

**بسم الله الرحمن الرحیم**

په اصل کې د دین د شتون فلسفه، د انسانیت له سطحې ملکوتي مقام ته د انسان هدایت دی او د پیغمبرانو د شتون فلسفه په ټولنه کې د دیني او اخلاقي زده کړو دودول او د تقوا او پرهېزګارۍ رعایتول دي. نو د ادیانو یوه ګټه د انسانانو د نېکمرغۍ په موخه د هغوی د اړتیاوو پوره کول دي.

د چاپېریال ساتنه او له ککړولو یې ډډه کول د بشري ژوندانه د ساتلو او د انساني حقوقو د رعایت له مخې د نني انسان یوه جدي او مهمه اړتیا ده. د طبیعي سرچینو تخریب د ټولنیزو نابرابریو له امله دی او په همدې توګه له طبیعت څخه د ګټې همدا ناسمې لارې چارې دي چې د نورو انسانانو د حقونو د ضایع کولو لامل کېږي. دیني اوامرو ته په کتو ویلی شو چې چاپېریال او پاک ساتل یې، همدارنګه سالم چاپېریال ته لاسرسی د بشر له بنسټیزو حقونو څخه دي. انسان د اشرف المخلوقات او په ځمکه کې د الله تعالی د خلیفه په توګه حق لري چې د الله (ج) له نعمتونو څخه ګټه پورته کړي؛ خو دا ګټه باید داسې نه وي چې له یادو نعمتونو څخه د نورو انسانانو استفاده تر اغېزې لاندې راولي، یا یې هم بېخي تړې بې برخې کړي.

انسان لکه څنګه چې له سالم چاپېریال څخه د ګټې اخیستنې حق لري، د سمې او پر ځای استفادې مسؤولیت هم ورپه غاړه دی. که د چاپېریال اوسني وضعیت؛ په ځانګړې توګه د افغانستان چاپېریال ته ځیر شو، نو وبه وینو چې خلکو د چاپېریال او طبیعي سرچینو په ساتنه او په غوره ګټنه کې خپل دیني رسالت او انساني مسؤولیت په سمه توګه نه دی ترسره کړی. د دې خبرې ثبوت اوسنې شته بېلابېل چاپېریالي ناورینونه دي چې انسانان ورسره مخ دي. لکه د اوبو؛ هوا او خاورې ککړتیا، اقلیمي بدلونونه، تیزابي بارانونه او نور...

الله تعالی د قرآن کریم د الاعراف سورت په ۵۶ آیت کې خپلو بنده ګانو ته امر کوي: «په ځمکه کې فساد مه کوئ...»

پرته له شکه چې د چاپېریال ککړول، تخریبول او له منځه وړل په ځمکه کې د بشر له فساد څخه ډ کې کړنې دي. لکه څنګه چې په پورتني آیت کې هم راغلي، همدارنګه د قرآن کریم په ګڼو نورو آیتونو کې د «فساد» کلمه له «فی الارض» سره راغلې چې په ځمکه کې د طبیعت او چاپېریال

تخریبول هم د فساد یو ډول دی. له همدې امله قرآن کریم د طبیعت او چاپېریال تخریبول ښکاره فساد او تباهي بولي.

د قرآنکریم له ګڼو آیتونو ښکاري چې فساد پراخه مفهوم لري او هر ډول ظلم، انحراف، وېجاړې او ناوړه کړنو، همدارنګه هر ډول تخریب او وېجاړتیا چې د پیدا ایښت شته نظام له خطر سره مخ کړي، فساد بلل کېږي. په ځمکه کې یو مهم نظم په طبیعت او د چاپېریال پر منظم سیستم حاکم نظم دی چې هر ډول تخریب یې له دیني اوامرو څخه ښکاره سرغړونه ده. نو له همدې امله هر رفتار او سلوک چې د چاپېریالي ککړتیاوو لامل شي، د اسلامي تعالیمو له مخې ناروا او ناسم عمل دی. پر همدې بنسټ؛ انسان باید له چاپېریال څخه د ګټې اخیستنې پر مهال، له هر ډول غیراصولي او تخریبي کړنو څخه ډډه وکړي.

د چاپېریال په اړه د اسلام څرګندونې او لیدلوری نن له زیات ارزښت څخه برخمن دي. د قرانکریم په ایتونو او احادیثو کې په پرله پسې توګه راغلي چې د ستر څښتن متعال نعمتونه د امانت په څېر دي، چې انسان ته سپارل شوي او د اسلام د روزنیز نظام له مخې، انسان د چاپېریال د حیاتي عناصرو د ککړولو او له منځه وړلو حق نه لري. د قرآن کریم له مخې چاپېریال یو نعمت دی چې د انسانانو په واک کې ورکړل شوی او دوی یې د کفران حق نه لري. (د بقرې سورت –۲۱۱ آیت) متعال رب د انسانانو، ځمکې او د نورو ژوندیو موجوداتو پیدا ایښت بې ځایه نه بولي. (زمر سورت–۲۷ آیت) او انسانان یې د چاپېریال له ککړولو او تخریب څخه منع کړي دي ځکه چې د ارزښت په تړاو یې زیاتې څرګندونې کړې لکه چې فرمايي: «موږ تاسې له وس واک سره په ځمکه کې مېشت کړئ او ستاسې لپاره مو دلته د اوسېدو وسایل برابر کړل، خو تاسې ډېر کم شکر ویستونکي یاست.» (الاعراف سورت ۱۰ آیت). همدارنګه پیغمبر اکرم (ص) د پاکوالي په اړه فرمایلي: «بې شکه الله تعالی پاک دی پاک ښه ګڼي، سېڅلی دی سپېڅلي ښه ګڼي، سخي دی او سخاوت ښه ګڼي، الله تعالی ښه ورکوونکی دی نو ورکړه ښه ګڼي، نو پاک کړئ خپل چاپېریال، د کور ساحه، محیط او ځانونه د یهودو سره په چټلوالي او ککړتیا کې مه ورته کوئ»[1] اسلام د چاپېریال ساتنې اړوند ښوونه او روزنه قرآني زده کړه او د ټولنې له غوره اخلاقو ګڼي.

په اسلام کې د محیط په اړه لیدلوری، په درېیو بنسټیزو چاپېریالي لیدلوریو وېشل کېږي.

لومړی: د **ساتنې لیدلوری** دی چې څرګنده بېلګه یې د ونو او بوټو د ساتنې اړوند لارښوونې او سپارښتنې دي. ستر متعال څښتن فرمايي: «او په ځمکه کې فساد مه کوئ،» (د اعراف سورت–

---

[1]- سنن الترمذي–عدد الاجزا: ۶، دحدیث شمېره: ۲۷۹۹.

۵۶ آیت) دغه آیت په ښکاره توګه د ساتنې لیدلوری وړاندې او له وېجاړی څخه په ډډه کولو امر کوي. په بوټو او ژوو باندې د الله تعالی قسم کول د شادابۍ او زرغونتیا اهمیت او همدارنګه د ساتنې ارزښت یې څرګندوي.

دوهم: **د ګټنې لیدلوری**؛ په دغه لیدلوري کې د اسلام لارښونې د دې لپاره دي، څو هغه څه چې الله تعالی پیدا کړي دي، ګټه ترې واخیستل شي. په قرآن کریم کې راغلي: «هماغه ذات دی چې ستاسې لپاره یې سمندرونه په کار اچولي دي، چې تاسې ورڅخه لمدې او تازه غوښې راواخلئ، ویې خورئ او له هغه څخه د ښایست هغه شیان راوباسئ چې تاسې یې اغوندئ. تاسې ګورئ چې بیړۍ د سمندر سینه څیروي، پکې ګرځي. دا هر څه د دې لپاره چې تاسې د خپل رب فضل ولټوئ او د هغه شکر ایستونکي شئ.» (النحل سورت – ۱۴آیت)

درېیم: **تلپاتې پراختیا**؛ یاد لیدلوری چې د شلمې پېړۍ په وروستیو کې د پوهانو ورته پام شو، د پای ته رسېدونکو سرچینو په تړاو خبرې کوي او د وخت په اوږدو کې ترې د معقولې ګټنې وړاندیز کوي. الله (ج) هم په بېلابېلو ایتونو کې اشاره کړې چې بېځایه لګښت مه کوئ. (اعراف سورت – ۷آیت) او هر څه په اندازه پیدا شوي دي. (قمر سورت – ۴۹ ایت)

د اسلام مبارک دین چاپېریال ته د یوه الهي نعمت په سترګه ګوري چې ساتنه او شکر یې د هر کس ورځنۍ دنده ګڼل کېږي. له بل لوري، اسلام په ټولنه کې د بسنې (قناعت) د فرهنګ پراختیا ته پام کړی او په ټولنیز ژوند کې یې انسانانو ته د عملي کولو سپارښتنه هم کړې ده.

د قرآنکریم ګڼ آیتونه د چاپېریال په ساتنه باندې ټینګار کوي، د بېلګې په توګه: «هماغه ذات دی چې ستاسې لپاره یې ځمکه فرش وغوړوله، اسمان یې چت جوړ کړ، له پاسه یې اوبه را و ورولې او په هغو سره یې هر ډول حاصلات را ایستلي، تاسې ته یې روزي ورسوله؛ نو کله چې تاسې په دې پوهېږئ نو له الله سره شریکان مه نیسئ» (البقره سورت– ۲۲آیت)

همدارنګه الله تعالی د الاعراف په سورت کې فرمایي: «کومه ځمکه چې ښه وي هغه د خپل پروردګار په امر سره ښې میوې دانې راوړي او کومه کرونده چې ناکاره وي له هغې څخه بابېزه حاصلاتو نه پرته نور څه نه را وځي، په دې توګه موږ د هغو خلکو لپاره بیا بیا نښانې وړاندې کوو چې شکر ایستونکي شي.»[2]

---

[2]- مولانا مودودي، تفهیم القرآن تفسیر، ژباړه قیام الدین کشاف

لکه څنګه چې جوته ده، اسلام چاپېريال ته ډېره پراخه کتنه کوي او پر وړاندې يې په پراخه توګه د متوازن او برابر چلن سپارښتنه کړې، ځکه چې « په ځمکه کې هر څه برابر او متوازن پيدا شوي دي.» (حجر سورت – ۱۹ ايت) . دغه عمومي توازن په طبيعت کې د «متعادل وضعيت» په نامه يادېږي. متعادل وضعيت ته رسېدل، په هر ځای او هر وخت کې له حاکمو شرايطو سره تړلي دي. نو که چېرې، د انسان چلن وېجاړوونکی او نامتوازن وي او د ټولنې فردي او عمومي وجدان د چاپېريال په وړاندې حساس نه وي، نو د چاپېريال تخريب به دوام لري او مخنيوی به يې خورا ستونزمن وي.

## په اسلام کې د چاپېريال ساتنې حللارې

د اسلام مبارک دين، په خپلو ټولو ويناوو کې د انسانانو د فطرت سره مطابق منځنۍ لاره ټاکلې او د طبيعت پر وړاندې يې د انسان لاس داسې خلاص نه دی پرېښی، چې هر ډول ګټه وغواړي ترې پورته يې کړي. همدارنګه طبيعت او چاپېريال تخريب او وېجاړې هېڅکله اسلام ته د منلو نه دی، بلکې په اصل کې دا د الهي نعمتونو ناشکري ده؛ خو اسلام انسان ته د دې اجازه هم نه ورکوي، چې د غوره والي له امله يې د عبادت لايق وګرځوي او د سپېڅلي ګڼلو له امله هېڅ راز ګټه ترې وانه خلي. ځکه اسلام منځلاري خوښوي او انسان هم دې لارې ته رابولي. په دې اړه اسلام وايي، الله تعالی طبيعت او په ځمکه کې نور مخلوقات د انسان د سوکالۍ لپاره پيدا کړي او طبيعت يې بې روحه موجود هم نه دی معرفي کړی، بلکې د نسبي شعور خاوند يې بللی، چې تل د الله تعالی ستاينه او ذکر کوي. الله تعالی د خپلو ټولو مخلوقاتو ژوو او نباتاتو لپاره ځانګړي حقوق ټاکلي چې انسان يې پر مراعتولو مکلف کړی او د غوره والي په موخه يې قسم پرې ياد کړی دی.

هغه انسان چې د قرآن پر بنسټ روزل کېږي، له اعتقادي او اخلاقي پلوه داسې وي، چې طبيعي عالم خپل طبيعي دوښمن نه ګڼي، بلکې د ديني نړۍ برخه يې بولي. د اسلامي نړۍ ليد له مخې، انسان په ځمکه کې د الله تعالی خليفه او ټول طبيعي عالم يې د امانت په توګه ورکړی، څو د هدايت په لاره کې ترې ګټه پورته کړي.

د چاپېریال ساتنې په برخه کې د اسلام لارښوونې دوې برخې لري: چې ځینې یې الزامي دي او ځینې یې د غوره ټولنې د رامنځته کېدو لپاره د اخلاقي لارښوونو په چوکاټ کې بیان کړې دي.[3]

- له ظلم او تېري ډډه کول

د عدالت د قاعدې پر بنسټ، د چاپېریال پر وړاندې باید له هر ډول ظالمانه کړنو څخه ډډه وکړو او پرته له شکه، هره کړنه چې په یو ډول د چاپېریال د ککړتیا لامل وګرځي، ظلم ګڼل کېږي.

- د عمومي سرچینو له بېځایه لګونې او تخریب څخه ډډه کول

ځینې کسان ښایي د خپلو اقتصادي ګټو په موخه د چاپېریال تخریب عادي وګڼي، خو د ښېړنو له مخې ګڼې انساني کړنې چې د حرص له مخې ترسره شوې او کېږي د بېلابېلو چاپېریالي ناورینونو لامل شوې دي، د بېلګې په توګه د ازون د پوړ تخریب او سوري کېدل د انسانانو د نه پاملرنې او حرص له مخې پراختیا موندلې ده. دا چې طبیعت د ټولو دی، نو هر هغه کړنه چې د طبیعت د تخریب او یا هم د نورو انسانانو د ځور لامل شي، د اسلام له مخې یو ناروا عمل دی.

- له اسراف او بېځایه لګښت څخه ډډه کول

په قرآن کریم کې د بېځایه لګښت په اړه ګڼ شمېر سپارښتنې شوې دي، لکه: «وخورئ، وڅښئ خو اسراف مه کوئ» (د الاعراف ۳۱ آیت). همدارنګه په دې اړه ګڼ حدیثونه هم شته، چې وایي؛ بېځایه لګښت یوه ناروا کړنه ده او هر شخص یې په دې برخه کې مکلف ګرځولی څو د اوبو، طبیعي زېرمو، ځنګلونو او نورو شته زېرمو له بېځایه لګونې ډډه وکړي، ځکه دا عمل په اسلام کې جرم دی.

- په ځمکه د فساد نه کول

الله تعالی په قرآن کریم کې فرمایي: «او کله چې هغه ته ځواک په لاس ورځي، نو په ځمکه کې د هغه ټولې هلې ځلې د دې لپاره وي چې فساد خپور کړي، کښتونه لوټ کړي او انساني نسل له منځه یوسي. په داسې حال کې چې الله تعالی هېڅکله فساد نه خوښوي.» (البقره سورت – ۲۰۵ آیت) ټول هغه کسان چې د ځمکې، طبیعت او چاپېریال په تخریب لاس پورې کړي، هوا ککړه کړي، سرچینې بېځایه ولګوي او نورې هغه کړنې چې د راتلونکي انساني نسل د نابودۍ لامل شي، فساد ګڼل کېږي او ترسره کوونکی یې مجرم دی. همداراز، الله تعالی هغه کسان چې

---

[3] سعید فراهانی فرد، محیط زیست: مشکلات و راه های برون رفت از منظر اسلام، ۱۳۸۵ کال، ۱۰۴ مخ

طبیعي ښکلاوې او منظرې له منځه وړي او یا یې هم تخریبوي، په شدیدو ټکو غندلي او د سختې سزا ژمنه یې ورسره کړې ده.

نو لکه څنګه مو چې په لومړیو کې وویل، انسان حق لري چې سالم چاپېریال ولري او د قرآن کریم آیتونه هم پر همدې دلالت کوي. خو مهم ټکی دا دی، چې هر حق له ځانه سره یو تکلیف هم لري؛ یعنې څنګه چې انسان په سالم چاپېریال کې د ژوند کولو حق لري، نو دا تکلیف هم لري چې خپل دغه حق نورو ته ور وپېژني او له هر هغه کړنې څخه چې له نورو دغه حق اخلي، ځان وژغوري. یا په بل عبارت، په سالم او پاک چاپېریال کې د نورو خلکو د ژوند کولو حق ته درناوی وکړي. نو ځکه په طبیعت او چاپېریال کې د انسان لاسوهنه او تصرف مطلق او نامحدود نه دي؛ بلکې د هغه اصولو او قوانینو تابع دي چې باید په نظر کې ونیول او مراعت شي. لکه: د طبیعت پاک ساتل، د طبیعي سرچینو له بې‌ځایه لګښت څخه ډډه کول، د نورو د حقونو درناوی، د راتلونکو نسلونو د حقونو ساتنه.

د پایلې په توګه ویلی شو؛ ایمان او اسلامي اخلاق هغه چارې دي چې د انسان او چاپېریال تر منځ سولییزه اړیکه رامنځته کوي، چې له امله یې بشري او چاپېریالي روغتیا تأمینېږي.

## اخځلیکونه:

1- حسيني، محمد واثق، اصول و مبانی حفاظت محیط زیست، انتشارات نویسا، کابل، ۱۳۹۶.

2- مهجور، فیروز، محیط زیست از دید گاه اسلام، مجموعه مقالات همایش اسلام و محیط زیست، تهران، ۱۳۸۷.

3- عسکری، فریدون، منابع طبیعی از دیدگاه قرآن کریم و احادیث، مجموعه مقالات همایش اسلام و محیط زیست، تهران، ۱۳۸۷.

4- فاروقي، نورانور، د چاپېریال ساتنې حقوق، مسلم خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۸.

5- محمدی زهره، آب از دیدگاه اسلام، مجموعه مقالات همایش اسلام و محیط زیست، تهران، ۱۳۸۷.

6- فرد، سعید فراهانی، محیط زیست: مشکلات و راه های برون رفت از منظر اسلام، مجموعه مقالات، تهران،۱۳۸۵.

7- محمد بن عیسی بن سوره بن موسی بن الضحاک، الترمذی، ابو عیسی (المتوفی: ۲۷۹هـ، الجامع الکبیر-سنن الترمذی، الناشر: دارالغرب الاسلامی- بیروت، سنه النشر: ۱۹۹۸م، عددالجزاء: ۶، باب: ماجاء فی النظافه.

8- Abu-Sway, Mustafa. “Toward an Islamic Jurisprudence of the Environment” lecture presented at Belfast mosque, February 1998. Updated 20 June 1999.